UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د ستراتيژيکو اړيکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتي اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**د ۲۰۱۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ملکي تلفاتو شمير ۲۴ سلنه زيات شوی دی**

**اوس د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو په پرتله مځکنيو نښتو او د ډزو په تبادله کې ډير افغان ملکي وګړو ته مرګه ژوبله اړول شوې ده**

***کابل، د ۲۰۱۴ کال دجولای ۹مه نيټه:*** نن د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی ( يوناما )، د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنری په همغږۍ د ۲۰۱۴ کال شپږ مياشتنی راپور "په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" په نوم خپور کړ او وې يل چې د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ښکيلو خواوو د مځکنيو نښتو له امله د افغان ملکي وګړو د مړينې او ژوبلې شمير د ځای پر ځای شوي چاوديدونکو په پرتله ډير شوی دی او ۲۰۱۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې په وسله واله جګړه کې مځکنی نښتې د افغان ملکي وګړو تلفاتو مخکښ لامل دي.

مځکنی نښتې او متبادلې ډزې په خپل بيساري زور سره زيان ښځو او ماشومانو ته زيان اړوي او له دې امله د ۲۰۱۴ په لومړيو شپږو مياشتو کې د ماشومانو په تلفاتو کې له دوه برابره ډير زياتوالی راغلی او د ۲۰۱۳ په پرتله د مځکينو نښتو له امله په دريو کې دوه برخې ښځې مړې او ټپيانې شوې دي.

که څه هم چې د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو له امله ملکي تلفات د ۲۰۱۳ کال په ورته موده کې په بې ساري ډول زيات شوي وو، خو په ۲۰۱۴ کې د مځکنيو نښتو په وخت د هاوانونو، راکټونو، لاسی بمونو او د وړو وسلو له امله د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې په ناڅاپه ډول زياتوالی راغلی دا ځکه چې په ۲۰۱۴ کې په دې ډول پيښنو کې شدت او تکرار په تيره بيا په هغو سيمو کې چې ملکي وګړي په کې زيات دي، راغلی دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازي او د يوناما مشر ښاغلي يان کوبيش وويل: "د ملکي وګړو په ميشتو سيمو کې په ۲۰۱۴ کې د د مځکنيو نښتو د پيښنو د زياتوالي له امله د افغانستان د وسلوالې جګړې ماهيت بدليږي. د دې اغيز په ملکي وګړو او د زيانمنونکو افغانانو له پاره تباه کوونکی ثابتيدلی شي."

يوناما د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ له لومړۍ نيټې څخه د جون تر ۳۰ مه پورې ۴،۸۵۳ ملکې وګړو تلفات مستند کړي دي چې د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۲۴ سلنه زياتوالی په ګوته کوي. په دې کې د ۱،۵۶۴ ملکي وګړو مړينه (چې ۱۷ سلنه لوړه شوې) او د ۳،۲۸۹ ټپي کيدنه شامله ده (چې ۲۸ سلنه لوړه شوې). په ۲۰۱۴ کې مځکنی نښتې په پينځو کې د دوو ملکيانو د تلفاتو لامل شوي دې چې د ټولو ملکي وګړو ۳۹ سلنه تلفات جوړوي او ټولټال ۱۹۰۱ ملکي تلفات يې رسيدلي دي چې په کې ۴۷۴ مړه او ۱۴۲۷ شامل دي چې دا د ۲۰۱۳ کال په پرتله د مځکنيو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې ۸۹ سلنه زياتوالی په ګوته کوي.

د ۲۰۱۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ماشومانو ټول تلفات ۳۴ سلنه زيات شوي دي چې ټول په کې ۱،۰۷۱ ماشومانو ته تلفات رسيدلي او له هغو نه ۲۹۵ ماشومان مړ شوي او نور ۷۷۶ ټپيان شوي دي. د ښځو تلفات ۲۴ سلنه زيات شوي چې ۴۴۰ ملکي ښځو څخه ۱۴۸ مړې او ۲۹۲ ټپيانې شوې دي. مځکنيو نښتو د ۱۱۲ ماشومانو ژوند واخيست او ۴۰۸ يې ټپيان کړل چې د ماشومانو ټول تلفات ۵۲۰ کيږي او د ۲۰۱۳ په پرتله ۱۱۱ سلنه زياتوالی په ګوته کوي. د

مځکنيو نښتو له امله ۶۴ ښځې مړې او ۱۹۲ ټپياني شوې چې ټولټال ۲۵۶ کيږي او د ۲۰۱۳ په پرتله ۶۱ سلنه زياتوالی په ګوته کوي.

د يوناما د بشر د حقوقو د څانګې مسولې جورجټ ګنيون وويل: "په ۲۰۱۴ کال کې جګړه په ټولنو، عامه ځايونو او د عادي افغانانو کورونو ته نژدې روانه ده، چې د ماشومانو او ښځو ته يې په زياتيدونکي او خواشيني کونکي ډول مرګ ژوبله اړولې ده. ډيرې نورې هڅې بايد وشي چې ملکي وګړي د جګړې له اغيز نه وساتل شي او له هغو خلکو پوښتنه وشي چې ملکي وګړي په قصدي ډول او له توپير پرته وژني ."

د دولت ضد عناصرو له خوا کارول شوي ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي په ۲۰۱۴ کې د ملکي تلفاتو دويم مخکښ لامل وو چې ۱،۴۶۳ ملکيانو ته يې تلفات اړولي، چې د ۲۰۱۳ په پرتله اوه سلنه زياتوالی په ګوته کوي چې ۲۰۰۹ کال راهيسې د شپږو مياشتو په موده کې د ملکي وګړو دتلفاتو تر ټولو لوړه شمير ده. له ليرې څخه کنترول کيدونکي ځای پر ځای شوي چاوديدونکيو توکو په کارولو کې ۱۳ سلنه زياتوالی راغلی چې په ۲۰۵ پيښو کې، ۱۵۰ ملکي وګړي مړه شوي او ۴۸۷ ټپيان شوي دي. تر ټولو ډير د انديښنې وړ له توپير پرته غيرقانوني د فشار په ذريعه چاوديدونکو وسيلو په ۲۰۱۴ کې بيا کارول او تکرار دی چې ۱۶۱ ملکي وګړي يې ووژل او ۱۴۷ نور يې ټپيان کړل چې ټول تلفات ۳۰۸ کيږي او د ۲۰۱۳ په پرتله ۳۳ سلنه زياتوالی ښيي.

د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرې ناوي پيلې وويل: " د افغانستان په وسله واله جګړه کې تر ټولو نه زيات زيان ملکي وګړو ته په دوامداره توګه رسيدلی دی. زه د جګړې له ښکيلو خواو نه کلکه غوښتنه کوم چې د ملکي وګړو د ساتنې له پاره اړين اقدامات وکړي چې د ۲۰۱۴ کال په پاتې مياشتو کې د ملکيانو مرګ ژوبله کمه کړي او يا يې د لا زياتوالي مخه ونيسي."

د دولت ضد عناصرو ځانمرګي او ډله ييزو بريدونه د ملکي وګړو د تلفاتو دريم لامل دی چې په کې ۱۵۶ ملکي وګړي ووژل شول او ۴۲۷ په کې ټپيان شول چې ټول تلفات ۵۸۳ ته رسيږي.

د ۲۰۱۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې طالبانو په ډاګه د ۱۴۷ بريدونو پړه په غاړه واخيسته چې په دې بريدونو کې ۵۵۳ ملکي وګړو ته تلفات ورسيدل چې په هغو کې ۲۳۴ مړه او ۳۱۹ ټپيان شامل دي. که څه هم طالبان جنګيالو د دې بريدونو څخه د ۷۶ موخه نظامي هدفونه وو خو ملکي وګړو ته يې له توپيره پرته زيان رسولی او په ۶۹ بريدونو کې دوی په قصدي توګه ملکي وګړي په شمول د قومي مشرانو، د دولت او د عدليې سکتورونو کارکونکي او په رستورانتونو کې ملکيان په نښه کړي دي. هغه بريدونه چې په کې د نظامي او ملکي ځايونو توپير په پام کې ونه نيول شي او هغه بريدونه چې ملکي وګړي په قصدي ډول په نښه کړای شي، د بشرپالنې نړيوال قانون څخه جدي سرغړونه ده او دا کيدای شي په جنګي جرمونو حساب شي.

يوناما ۷۴ سلنه د ملکي وګړو تلفات د دولت ضد عناصرو او نهه سلنه يې دولت پلوه ځواکونو ( اته سلنه افغان امنيتي او يو سلنه نړيوالو پوځي ځواکونو) ته منسوبوي. ۱۲ سلنه تلفات د مخالفو جنګيالو او د افغان ځواکونو د د مځکنيو نښتو په وخت کې منځ ته راغلي او (يوناما) ونه شوکړی چې له دوي دو څخه کومې ځانګړې خوا ته يې منسوب کړي. پاتې نور تلفات له جګړې څخه پاتې شويو ناچاوده توکو له امله منځ ته راغلي دي.

د مځکنيو نښتو او د متبادلو ډزو له امله ۱۰۹۱ ملکي وګړو ته تلفات رسيدلي دي چې يوناما ۹۸۸ (۵۲ سلنه) د دولت ضد عناصرو او ۲۷۴ (۱۴ سلنه) يې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي او ۵۹۹ (۳۲ سلنه) کومې خوا ته منسوب شوي نه ده او دوه سلنه تلفات د پولې بلې غاړې نه د ګوليو ويشتلو له امله منځ ته راغلي دي.

په ۲۰۰۹ کې يوناما د ملکي وګړو د تلفاتو څارل پيل کړ او د همدې کال د لومړی شپږو مياشتو په پرتله په ۲۰۱۴ کې د د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو وژنه دوه برابره شوه ( شميرېي له ۵۹۹ نه ۱،۲۰۸ شوه) خو دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي وګړو شميره نيمايي ( له ۳۰۲ نه ۱۵۸ شوه) ته راښکته شوه او ښايي اصلي دليل يې د نړيوالو پوځي ځواکونو په هوايي بريدونو کې کمښت وی.

ځانګړی استازي ښاغلي یان کوبیش وویل: "اورد مهاله تمایل دا په ګوته کوي چې په جګړه کې د دولت ضد عناصر د ډېرو زیاتو ملکي تلفاتو مسوول دي. که څه هم د جګړې ټولې ښکیلې خواوې په شمول د افغان امنیتي ځواکونو باید د نړیوال قانون سره سم د خپلو د مسولیتونو ملاتړ له پاره ډیرې هڅې وکړي چې ملکي خلکو ته زیان ونه رسوي، خو اصلي مسوولیت په ښکاره ډول طالبانو او د دولت ضد عناصرو ته راجع دی چې دوی دا اوسنی تمایل ( د زیاتو ملکیانو مرګ ژوبله) بیرته په شا بوزي او د دې په اړوند کړې ژمنې پوره کړي."

**د یوناما د ۲۰۱۴ کال د لومړی شپږو میاشتو راپور " په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" څخه د افغان ملکي وګړو خاطرې:**

*د ټاکنو څخه یوه ورځ مخکې خبره ده. ما، زما زوی او ځینې کلیوالو د سیمې په یو جومات کې مونځ کاوه چې جګړه پیل شوه. دا جګړه د طالبانو او دولتي ځواکونو تر منځ وه. دواړه خواوو غټې وسلې لکه هوانونه، راکټونه او لاسي بمونه کارول. ناڅاپه زموږ په جومات باندې د هوان یوه مرمۍ ولګیدله. زما د سترګو مخ کې دو ه سړي او هلک مړه شول. په دوي کې یو زما زوی و. زما یوازې لاس ژوبل شو خو زما زوی مړ شو. زموږ په جومات کې څلور تنه میلمانه هم ټپیان شول.*

یو ملکي چې په ۴ اپریل ۲۰۱۴ کې د پچیر واګام د ولسوالی، ننګرهار ولایت په یو جومات د یو هوان مرمی له امله ټپي شو. په دې پیښه کې د ۱۵ کلن ماشوم په شمول درې ملکي وګړي مړه او پینځه نور ټپیان شول.

*ما ویریدونکی غږ واورید. د یوې چاودنې له امله زما دوکان ونړوریده او شیشې یې ماتې شوې. ما ولیدل چې ډیر ماشومان، ښځې، سړي او ځوانان ټپیان وو، په مځکه هرې خواته پراته وو او وینې ترې روانې وې. ما او نورو دوکاندارانو د ټپیانو روغتون ته وړلو کې مرسته وکړه. د چاودنې په ځای کې څوک مړ شوي نه وو، خو په روغتون کې د ټپونو له کبله درې کسان مړه شول. د چاودنې په ځای کې افغان امنیتي ځواکونه نه وو. د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو هدف یوازې بیګناه خلک وو.*

یو دوکاندار او عیني شاهد چې د ۴ جون ۲۰۱۴ په ورځ د میمنې ښار، فریاب ولایت، په یو مصروف مارکیټ کې د لیرې څخه د کنټرول کیدونکو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو چاودنه په خپلو سترګو لیدلې وه. په دې پیښه کې درې ملکیان مړه او ۱۴ نور په کې ټپیان شوی وو.

یوناما د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې " په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" راپور د افغانستان حکومت، طالبانو او ایساف سره شریک کړی دی. ددې ښکیلو ډلو تبصرې په غور سره کتل شوې او په کوم ځای کې چې مناسبه وه په راپور کې په نظر کې نیول شوې دي. یوناما د جګړې ټولو ښکیلو خواو سره کار کولو ته ادامه ورکوي چې د هغوي د ملکي وګړو د ساتنې هڅو ملاتړ وکړي او د ملکي تلفات پای ته ورسیږی او مخنیوی یې وسي.

**یوناما د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په راپور کې د ملکي وګړو ساتنې لپاره لاندې سپارښتنې لري:**

**د دولت ضد عناصرو ته:**


- د استوګنې په سیمو کې د هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو ویشتل ودروئ.
- د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو له توپیره پرته او بی تناسبه کارول او همدارنګه د فشار په ذریعه د فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکو غیرقانوني کارول په خاصه توګه د خلکو د تګ راتګ په سیمو کی، بند کړئ.
- په ملکي ځایونو کې په شمول د رستورانتونو، د ملکي خلکو په کورونو، عمومي سړکونو، قونسلګریو، ملکي حکومتي دفترونو په شمول د محکمو، څخه او وربانديِ ټول بریدونه ودروئ.
- د ملکي خلکو داسی تعریف وکاروئ چې د بشرپالنې د نړیوال قانون سره مطابقت ولري او د دې قانون داصولو په رڼاکې د برید په وخت د توپیر، تناسب او احتیاط د اصلو په رڼا کې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وکړئ.
- داسی لایحه، لارښوني پلي کړئ چې ستاسي غړو ته د ملکي تلفاتو د مخنیوي اود هغې څخه د ډډه کولو لارښونه په کې شوې وي او هغه غړو سره محاسبه وکړئ چې ملکي وګړي په نښه کوي یا یې وژني او ټپي کوي.


**افغان حکومت ته:**


- د استوګنی په سیمو کې د هاوانونو، راکټونو او لاسی بمونو ویشتل ودروئ.
- د تکتیکي لارښوونو، د جګړې د قواعدو او نورو کړنلارو د بیا کتنې او تقویه کولو له لارې د مځمکنیو نښتو له امله د ملکي خلکو د تلفاتو د کمولو لپاره رښتیني اقدامات وکړئ. او د ملکي خلکو د ساتنې، د تلفاتو راکمولو او حساب ورکونی په خاطر د افغان امنیتي ځواکونو د مناسبې روزنې او د لازمو منابعو د برابرولو څخه ځان ډاډه کړئ.
- د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې ستراتیژۍ د بشپړ پلي کیدلو له پاره د لازمو منابعو اختصاص ورکولو ته ادامه ورکړئ. د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ظرفیتونو لا لوړولو ته لومړیتوب ورکړئ چي څو له دې لارې وکړای شی د دغو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې عملیات او ددغو توکو د خنثی کولو او پاک کولو عملیات په اغیزمنه توګه رهبري، کنټرول او اجرا کړي.
- د افغان امنیتي ځواکونو، دولت پلوه ملیشو او د متحدینو پر ضد د بشري حقونو سرغړونې او ناوړه چلن ټول ادعاوې دې وڅیړل شي ، او ګرم پیژندل شوي کسان دې د افغانستان او نړیوال قانون سره سم عدلي تعقیب او مجازات شي.
- ټولي غیر قانوني وسله والي ډلي دې له منځه ووړل شي او د بې وسلې کولو پروسه دې ادامه ومومي.

**نړیوال پوځي ځواکونو ته:**

- د کافی منابعو، لازمو روزنو او تجهیزاتو د برابرولو له لارې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکړی شی څو دوي وکړای شی چې په ۲۰۱۴-۲۰۱۶ موده کې د دغو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې عملیات او ددغو توکو د خنثی کولو او پاک کولو عملیات په اغیزمنه توګه رهبري، کنټرول او اجرا کړي.
- دغو هڅو ته دوام ورکړئ شي چي د ټولو نړیوالو پوځی اډو او نور هغه تړل شوې سیمو چې د ایساف د عملیات د پیل څخه راپدیخوا پکښې ډزې شوې دي، نقشې یې برابرې شي، د غه سیمې په ښه او له ناچاودیدونکیو توکو څخه پاکې شي.
- د افغان حکومت په همغږۍ سره د هغو عملیاتو بیا کتنه او څیړنه وشي چي د نړیوال امنیتي او استخباراتي ځواکونو په ګډون سره ملکي تلفات په کې پیښ شوی دی او داسی مناسب اقدامات وکړای شي څو حساب ورکونه، د عملیاتی فعالیتونو ښه والی او جبران خساره پکی تضمین شی.


د ملکي وګړو مرګ ژوبله
د ۲۰۰۹کال له جنورۍ څخه د ۲۰۱۴ کال تر جون پورې
3500
3000
2500
2000
1500
1000
500
0
1052
1439
1281
1990
1575
2341
1159
1979
1342
2577
1564
3289
2009
2010
2011
2012
2013
2014
وژل شوي
ټپيان شوي


په جګړه کې دښکېلو خواوو د لوري د ملکي وګړو تلفات
جنوري۲۰۰۹ نه تر جون ۲۰۱۴ پورې
1400
1200
1000
800
600
400
200
0
599
302
151
931
223
127
1074
319
182
881
174
104
1044
150
148
1208
158
198
2009
2010
2011
2012
2013
2014
دولت ضد عناصر
دولت پلوه خواکونه
نور




***

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**